د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
Office of the Deputy PM for Economic Affairs

# د افغانستـــان اقتصـادي پـرمختګ

## خبرپاڼه

دریم کال - ۱۴۰ مه ګڼه | پرله‌پسې ۷۶ مه ګڼه

نېټه: ۱۴۰۵/۰۴/۱۸



په افغانســتان کې هره اوونی په بېلابېلو سکټورونو کې مهم اقتصــادي فعالیتونه او پرمختګونه رامنځته کېـږي. د افغانســتان اقتصادي پرمختـګ (خبرپاڼه) همدغو مهمو او وروســتیو اقتصادي فعالیتونو او پرمختګونو ته پوښښ ورکوي.

### په دې ګڼه کې لولئ:

۱- د برېښــنا انرژۍ پنځــه کلن پراختیایي پلان؛ د انرژۍ د ځان بســیاینې او اقتصــادي ودې پر لور مهم ګام

۲- د تخار د رسوبي سرو زرو کانونو قرارداد؛ د پانګونې، عوایدو او کاري فرصتونو نوی پړاو

۳- بهر ته د افغان ماهرو کارګرانو لېږد؛ د عوایدو او کاري فرصتونو نوې زمینه

## د برېښنا انرژۍ پنځه کلن پراختیایي پلان؛ د انرژۍ د ځان بسیاینې او اقتصادي ودې پر لور مهم ګام



د هېواد د برېښنا انرژۍ پنځه کلن پراختیایي پلان، چې د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون له تایید وروسته د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه‌الله تعالی له لوري منظور شوی، د افغانستان د انرژۍ سکټور د پراختیا له پاره یوه مهمه ستراتیژیکه نقشه بلل کېږي. دغه پلان د انرژۍ د کورنیو سرچینو د اغېزناکې استفادې، د برېښنایي زیربناوو د پراختیا او پر وارداتي برېښنا د اتکا د کمولو په موخه ترتیب شوی دی. د پلان له مخې، د اوبو، لمر، باد او ډبرو سکرو له کورنیو سرچینو څخه د برېښنا تولید ۲۵ پروژې، د برېښنا د لېږد ۱۳ نیمګړې او ۲۳ نوې پروژې، د سب سټېشنونو ۲۱ نیمګړې او ۲۱ نوې پروژې او د برېښنا د توزیع ۳۴ پروژې پلي کېږي. د دغو پروژو بشپړېدل به د هېواد د برېښنا تولید، لېږد او توزیع ظرفیت په څرګند ډول لوړ کړي او د انرژۍ شبکې پراخېدو ته به زمینه برابره کړي. افغانستان اوس هم د خپلې اړتیا د پوره کولو له پاره د برېښنا یوه لویه برخه له ګاونډیو هېوادونو واردوي، چې دا کار هر کال د میلیونونو ډالرو د وتلو لامل کېږي. د انرژۍ د کورنیو سرچینو پراختیا به نه یوازې د وارداتي برېښنا اړتیا راکمه کړي، بلکې په هېواد کې به د اقتصادي فعالیتونو د پراختیا له پاره هم مناسب شرایط برابر کړي. د انرژۍ سکټور پیاوړتیا د صنعت، کرنې، کانونو، سوداګرۍ او خدماتو د ودې اساسي شرط ګڼل کېږي. د برېښنا د تولید او شبکو پراختیا به د کورنۍ او بهرنۍ پانګونې د جذب، د تولیدي فابریکو د فعالیت، د کاري فرصتونو د رامنځته کېدو او د اقتصادي ودې په چټکتیا کې مهم رول ولوبوي. د برېښنا انرژۍ د پنځه کلن پراختیایي پلان منظوري د افغانستان د انرژۍ د ځان بسیاینې، د مالي خپلواکۍ د پیاوړتیا او د دوامداره اقتصادي پرمختګ پر لور یو مهم ګام دی. د دې پلان بریالی تطبیق کولی شي د هېواد د انرژۍ سکټور اساسي بدلون ته لاره هواره او د اوږدمهاله اقتصادي ثبات له پاره قوي زمینه برابره کړي.

## د تخار د رسوبي سرو زرو کانونو قرارداد؛ د پانګونې، عوایدو او کاري فرصتونو نوی پړاو

د تخار ولایت د چاه‌آب ولسوالۍ د شول درې او ارچي سیمو د رسوبي سرو زرو د کانونو د استخراج او پروسس قرارداد د هېواد د کانونو په سکټور کې د خصوصي پانګونې د پراختیا له مهمو ګامونو څخه ګڼل کېږي. د کانونو او پټرولیم وزارت د معلوماتو له مخې، د دغو دوه کانونو قرارداد د ۸۹ میلیونه او ۶۴ زره ډالرو په ارزښت د لسو کلونو له پاره له یوه خصوصي شرکت سره لاسلیک شوی دی. د قرارداد له مخې، هر کال د ۴۴ میلیونه او ۵۳۲ زره ډالرو په پانګونه استخراجېږي او د افغانستان اسلامي امارت په ګټه به ۴۰ سلنه رویالټي ورکول کېږي. د کانونو سکټور د افغانستان له هغو اقتصادي برخو څخه دی چې د پانګونې، صادراتو او عوایدو د زیاتوالي پراخ ظرفیت لري. د سرو زرو د کانونو قانوني استخراج نه یوازې د اسلامي امارت عواید لوړوي، بلکې د غیر قانوني استخراج او د ملي شتمنیو د

ضایع کېدو مخه هم نیسي. قراردادي شرکت مکلف شوی چې د رویالټۍ ترڅنګ په دواړو ساحو کې د ټولنیزو خدمتونو له پاره دوه میلیونه ډالر ولګوي. دا پانګونه کولی شي د سیمې د سړکونو، روغتیا، پوهنې او نورو عامه خدمتونو په ښه کېدو کې مهم رول ولوبوي. د کارموندنې له اړخه هم دا پروژه د پام وړ اغېز لري. د پروژې په پلي کېدو سره به شاوخوا درې زره هېوادوالو ته مستقیم او څلور زره نورو ته غیر مستقیم کاري فرصتونه برابر شي. دا به د هېوادوالو د عایداتو په لوړولو، د بې کارۍ په کمولو او د سیمه ییز اقتصاد په پیاوړتیا کې اغېزناک رول ولري.



## بهر ته د افغان ماهرو کارګرانو لېږد؛ د عوایدو او کاري فرصتونو نوې زمینه

د افغان کارګرانو له پاره د بهرنیو هېوادونو د کاري بازارونو پراخېدل د هېواد د کار بازار او اقتصاد په برخه کې یو مهم پرمختګ ګڼل کېږي. د کارګرانو د اتحادیې د معلوماتو له مخې، ایران، قطر او ترکیې د لسګونه زره ماهرو افغان کارګرانو د جذب غوښتنه کړې او په دې اړه تخنیکي خبرې روانې دي. د ورکړل شویو شمېرو له مخې، قطر د درې زره، ترکیې د څه باندې شل زره او ایران د نږدې سل زره ماهرو افغان کارګرانو د استخدام غوښتنه کړې ده. د کارګرو بهر ته قانوني لېږد کولی شي د هېواد په اقتصاد کې څو مهمې مثبتې پایلې ولري. لومړی، زرګونه هېوادوال به د کار زمینه ترلاسه کړي او د خپلو کورنیو اقتصادي وضعیت به ښه کړي. دویم، د دغو کارګرانو له خوا هېواد ته رالېږل کېدونکې پیسې یا حوالې به د کورنیو د عایداتو د زیاتوالي ترڅنګ د هېواد د بهرنۍ اسعارو په جذب کې هم مرسته وکړي. په ډېرو هېوادونو کې د کاري مهاجرینو حوالې د اقتصادي ثبات مهمه سرچینه بلل کېږي. د اتحادیې د مسوولینو په وینا، بهرني هېوادونه له مسلکي مهارتونو سربېره معتبر سندونه او تصدیق شوې ورتیاوې هم غواړي. له همدې امله د کار او ټولنیزو چارو وزارت د روزنیزو انستېټیوټونو له لارې د کارګرانو د مهارتونو لوړول، مسلکي روزنه او د نړیوالو معیارونو مطابق تصدیق، د دې پروسې مهم شرط ګڼل کېږي. د ماهرو افغان کارګرانو قانوني لېږد په لنډ مهال کې د بې‌کارۍ د کمېدو او د کورنیو د عاید د زیاتېدو لامل کېږي او په هېواد کې د بېکارۍ کچې کمولو له پاره ګټور ګام ګڼل کېږي. د افغانستان اسلامي امارت په کور دننه د کاري فرصتونو د ایجاد په موخه ګڼې پروژې پیل کړې چې زرګونه هېوادوال په کې په کار بوخت دي. سربېره پر دې، خصوصي سکټور کې هم زرګونه هېوادوال دندې لري، خو دا چې هېوادونه خپلو ټولو وګړو ته په کور دننه کاري فرصتونه برابرولی نه شي، نو یوه ښه لاره یې نورو هېوادونو ته په قانوني ډول د کارګرانو لېږد دی، چې په کور دننه په کاري بازار د فشار کمولو ترڅنګ اقتصادي ګټې هم ولري.

